السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# په هر چا چې د خپل (مسلمان) ورور کوم حق وي، که د عزت پایمالېدو یا بل څه په برخه کې وي نو همدا نن دې ترې ځان خلاص کړي، مخکې لدې چې دینار او درهم به نه وي

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی وایې چې رسول الله ﷺ فرمایلي: «په هر چا چې د خپل (مسلمان) ورور کوم حق وي، که د عزت پایمالېدو یا بل څه په برخه کې وي نو همدا نن دې ترې ځان خلاص کړي، مخکې لدې چې دینار او درهم به نه وي، ځکه (په قیامت کې کې به بیا) که ښه نېک عمل ولري، نو د حق په اندازه به ترې واخېستل شي او که نیکۍ ونه لري، د هغه بد عملونه پر ده ور اچول کېږي».

[صحیح دی] [بخاري روایت کړی دی]

نبيﷺ هر هغه کس ته امر کړی چې د خپل مسلمان ورور عزت پایمالېدو، مال یا یې وینې توییدو په برخه کې یې ورسره ظلم کړی وي چې په دنیا کې ورته بخښنه وکړي، مخکې لدې چې قیامت راشي، چېرته چې بیا د سرو زرو دینار یا د سپینو زرو درهم د ځان خلاصولو لپاره ګټه نه کوي؛ ځکه چې هلته قصاص د نېکیو او بدیو پر بنیاد ده: مظلوم د ظالم له نېکیو څخه د خپل حق په اندازه اخلي، او که ظالم نیکۍ ونه لري، نو د مظلوم ګناهونه دظلم په اندازه پر ظالم ور اچول کېږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5438

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee